د جنګاښ ۲مه، کال ۱۴۰۴



# د سیمه ییزه حکومتولۍ په وړاندې د خنډ او څنډ عوامل

## ولایتي ادارو ته د موازي او غیرموازي بنیادونو لخوا وړپېښ ګواښونه او مشکلات

**دافغانستان د سیمه ییزه حکومتولي په سلسله کې....**

**محمدآصف ننګ**

د اقتصاد څېړندوی مشر، له پکتیکا څخه

### (۱) د ولس استازولي،
### دوه اړخیزه ګټې او څو اړخیزه تضادونه!

په ولایتونو کې ولایتي شوراګانې او په ملي شورا کې د ولس استازې د ولایتي اداري په وړاندې تر ټولو لوی خنډونه ول، دوی په خپلو کړنو کې د منافعو تضاد، دوه ګوني اجراات، ضد او نقیض دریځونه نیول، په نال او په چکش وهل او د خلکو او نظام زیان کم خو خپلې ګټې ډېرې په پام کې نیولې، خپل قانوني اختیارات او بالفعل له قانون سره په مغایرت کړنې په دومره جرائت او میداني توګه ترسره کولې چې اصلاً یې د قانونګذاري کار تر سوال لاندې راوستی و، د دوی اکثریت غړو پخپله تجارتي او ساختماني شرکتونه، بارچالاني او ترانسپورتي کمپنۍ درلودې خو په عین وخت کې یې د دولت پر همدغو ادارو نظارتي نقش درلود، طبعاً چې پدې صورت کې به دوی د دولت په ځای د خپلو منافعو اړخ رعایت کاوه، خو مرکزي دولت هیڅکله پدې هکله پلټنه او څېړنه ترسره نه کړه او دغه د منافعو تضاد یې برجسته نکړ او نه یې پدې هکله د چا دوسیه تر عدلي تعقیب لاندې راوسته، خو که دغه صلاحیتونه ولایتي اداري سره وای نو حتمن یې دغسې ناقانونه او تور کاروبار محدودولی شوی مثلاً په فراه ولایت کې چې زه والی وم، د ولایتي شورا او ولسي جرګې غړو یا پخپله د نفتي، خوراکي او ساختماني موادو شرکتونه او کاربار درلودل یا خو له نورو اړوند شرکتونو سره یې شراکت درلود یا یې ترینه کمیشن اخیست، دا کاملاً دقیقه ادعا ده...څکه خو دوی د دولت د بیت المال پرځای پر اړوند ګمرکي او بندري ادارو د نظارتي رسوخ په درلودو سره کولی شوی خپلې یا د خپل شریک او ذینفع طرف ګټې په آسانه تامین او دولت بیت المال ته زیان ورسوي، نو څومره طبیعي مافیایې چانسونه دویته مهیا ول، په داسې حال کې به د ولایتي اداري مشرتابه او ذیربطه عایداتي اداري یا ورسره

فسادیږي یا به ورسره په ټکر کې راځي، چې په هغه صورت کې به ولسونه، بیکاره او بې سرنوشته ځوانان او خپل قومي افراد د دوی په لمسون د ولایتي ادارې په وړاندې قد علم کاوه، ولایتي ادارې ته یې دردسر ایجادوو، مظاهرې به یې ترسره کولې او میډیا به یې د ناچیزه مادي امتیاز په بدل د ولایتي ادارې په وړاندې بسیج کوله، مگر غالباً والي او ولایتي ادارې دغسې مسلسله فشارونو ته تاب نشوای راوړلی، په مرکزي ادارو کې د همدغسې زورمندانو سره سازش او تعامل ترسره کیدو، دوی به مرکزي مشرانو ته د باج یوه برخه شریکوله ځکه خو به د شکست اړخ حتمن والی او ولایتي اداره وه، که څه هم د ملي شورا غړو (وکیلانو او سناتورانو) مستقیماً پر والیانو فشار او رسوخ نه شوای قایمولی خو د ولایت په کچه په نورو دویمي ریاستونو او



محلي ادارو کې یې رخنه او نفوذ ممکن وه، وکیلانو د ولس د استازو په عنوان په هر شي کې د مداخلې حق ځانته ورکاوه، دوی د ولایتي ریاستونو په تعیناتو او بر طرفی کې په غیر مستقیمه توگه خو پر وزیرانو او د مستقلو ادارو پر مشرتابه په مستقیمه توگه اثر او نفوذ درلود، د وزیر د تائید رایه او د استجواب او استیضاح صلاحیتونه په ولسي جرگه کې و، په همدې اساس دوی کولی شوی پر وزیر خپل فرمایش تعمیل کړي، ولایتي رئیس یا مدیران پرې تعین، تبدیل یا برطرف کړي، معلومه دې وي چې د ملکي خدمتونو د قانون، د ملکي کارکوونکو او مامورینو د قانون او د کار د قانون له مخې وزیرانو په محدوده کچه خو والیانو په بیخي کمه کچه د مامورینو او کارکوونکي د ټاکنې او عزل صلاحیت درلود، خو لدې سره سره د وزیرانو لپاره د دې زمینه وه چې د خپلې وزارت یو کارمند یا رئیس ته د لیري کیدو بهانه او دلیل پیدا کړي او بیا په بیا تعین کې د وکیلانو فرمایش عملي کړي. خو که ولایتي ادارې او سیمه ییزه حکومت له کافي واک او صلاحیتونو برخمنې وای دوی کولی شوی سیمه ییزه مشکل ته سیمه ییزه حل او ولایتي گوابنونو ته په ولایتي کچه کې ځواب وواییي، دغه د امتیاز او تورو گټو محلي مافیا همالته په سیمه کې خنثی کړي او د دولت مشروعیت او اقتدار په بهتره توگه تمثیل کړی شي. بلخوا په ولایتي کچه د ولایتي شوراگانو، له نا واضح صلاحیتونو سره، د ولایتي ادارو لپاره په یوه موازي ځواک او گوابن تبدیل شوې وو، دوی د خپل سیمه ییزه اثر او رسوخ او سیمه ییزه امکاناتو نه په استفادې کولی شوی په محلي منازعاتو او ملکیتي او حقوقي دعواوو کې جانبداري یا د بل اړخ مخالفت وکړي، پدغسې مسایلو کې د دعوا طرفینو د مالي او مادي امتیاز په پار تر ټولو زیات همدغو

استازو ته مراجعه کوله، په داسې حال کې چې په سیمه کې د دغسې منازعو او مسایلو شمیر په سلګونو ول او دا د عایداتو یوه مصئونه منبع وه د دوی لپاره، ځکه چې دوی به د ولس د استازو په عنوان په آسانه تر عدلي او قضایي ادارو لاسرسي درلود، که به ولایتي ادارو د حق او عدالت اړخ نیوه نو دوی به د هماغو محلي مقاماتو او والیانو په خلاف جبهه او د مخالفت لپاره یې جنبه جوړولی شوی، پدې توګه ولایتي مسوولین او والیان مجبور ول یا تصادم وکړي چې د ده لپاره د سردردۍ تر څنګ د لویو مصلحتونو او اجراااتو په وړاندې خنډ کیدل، د والي یا محلي رئیس د برطرفۍ تر حده یې هم نفوذ کولی شوی، بیا چې فساد او ضمني علایق هم ورسره مل وی او یا دا چې محلي مسوولینو به ورسره سازش او جوړآمد کاوه چې پدې توګه ولسي رضایت او پروګرامونه پکې زیانمن کیدای شوی.

لکه چې مو اشاره وکړه د ولس د استازو او ولایتي شوراګانو غړي اکثراً بې سواده، محلي قوماندانان او یا سیمه ییزه ملکان او زمینداران ول، زما د دوو ولایتونو د تجربې له مخې ویلی شم چې د ولایتي شوراګانو غړي اکثریت یې محلي زورواکي،



دکانداران، قراردادیان، د ساختماني شرکتونو یا د رهنمایي معاملاتو مالکان ول، تر څنګ یې د قومي او مذهبي لیړکیو استازي هم ول، چې طبعاً له ډیر احتیاط او امتیاز به دې ورسره کار اخیست... دوی هر یوه یې په عایداتي منابعو د نفوذ او سرایت لپاره له شدیداً رزیلو وسایلو او له فشاري اسلوبو، لکه د قوم، ګوند، مذهب او یا په وروستي دوره کې د ډاکټر اشرف غنی او ډاکټر عبدالله ترمنځ د دولتي تقسیم (۵۰٪+۵۰٪) له آدرسه د ولایتي ادارې په وړاندې کار اخیست، ولایتي ادارې ته څو محدود انتخابه مخې ته ول، یا به یې تعامل او سازش کاوه او د دوی روا او ناروا غوښتنو ته به یې تن ورکاوه، یا به یې ورسره ټکر کاوه او یا به یې ورسره په جرمي اقتصاد او معاملاتو کې شراکت کاوه، پدې توګه به د فساد ګټې بې جنجاله تقسیمیدلې چې طبعاً مافیایي څواک به ورسره غښتلی کیدو، د دولت بیت المال به له عوایدو محرومیدو، د انکشاف او پرمختګ پروګرامونه به د اداري فساد، کم کارۍ، له شرکتونو او قراردادیانو سره په اخاذیو او باجګیریو بدلیدو، چې په مجموع کې یې دولتي مشروعیت او د رسمي ادارې حیثیت او اعتبار ته صدمه رسوله....د خدمت انګیزه یې له رسمي کارمندانو او د وطن ساتنې او سرشیندنې انګیزه یې له سرتیرو اخیسته، بلکې برعکس هغوی هم پخپل ځای کې د فساد په عاملینو تبدیلول...په آینده کې د ولایتي شوراګانو او د ملي شورا د غړو پر معیارونو، شروطو، شرایطو، وظایفو او صلاحیتي حدودو یې جدي کار وشي، په ولایتي رغنده نقش، ممد او همکار رول، غیر مزاحمتي فعالیتونو او د منافعو د تضاد او ولسي حقیقي استازولۍ یې باید ډیر دقیق کار وشي. د جمهوریت د دورې تر ټولو لوی زیان د دولت مشروعیت او قانونمندۍ ته همدې نجیب کور نانجیبه استازو رسولی، هغوي چې نجیب ول د خنثی نقش ګناه یې تاریخ ته پاته ده.




دلته په لنډو کرښو کې د سیمه ییزه ادارو په وړاندې د څو نورو عمده خنډونو، مافیایي کړیو او د فساد زمینه جوړونکي عوامل یادوم:

**(۲) د والیانو د حقوقو او مصئونیت په اړه د قانون بې مهري او ګونګوالی**

د جمهوریت د دورې والیانو د کار او ملکي خدمتونو په قوانینو کې واضح مکانت او امتیازات نه درلود، نه یې قانوني وظیفوي مصئونیت په هیڅ قانون او مقرره کې ندی تشریح شوی، حتی هغه د فوق رتبه او مافوق رتبه حقوقي محتوا هم پر دوی د انطباق وړ نه وه، تر وظیفې وروسته خو به کاملاً بې سرنوشته کیدل او په کاملاً بیکاره پرزې بدلیدل، بل داسې کوم منصب نه و چې دوی پکې معادل ماموریت او له معادلو امتیازاتو سره پکې تعین شوې وای، کله چې یو کارمند پدې پوه وی چې له خپلې موجوده وظیفې وروسته به کاملاً بې سرنوشته، بې اعتباره او بې معاشه کیږي نو طبیعي ده چې له خپل وظیفوي سمت او اعتبار به د ماموریت په دوره کې سوء استفاده او خپل د ماموریت څخه مابعد دور لپاره به زر اندوزي او چاره جویې کوي، تر څنګ یې والیانو د خپل امنیتي او معیشتي مصئونیت په نه درلودو او له لاسه ورکولو سره به مجبور ول په هر قیمت چې وي خپله وظیفه حفظ کړي، له محلي مافیاو سره سازش وکړي او یا تر انفکاک وروسته ځان ته دوباره وظیفه پیدا کړې دوی به د رشوت، شناخت، رسوخ یا بلې هرې لازې چې وي ځانته د بیاځلي تعین او ټاکنې امتیاز تر لاسه کوي، لکه چې وویل شول، همدا مساله باعث کیده چې والیان د خپلې پردې او وظیفوي دوام لپاره له سیمه ییزه عناصرو سره سازش او انعطافي تعامل وکړي، دوی په داسې محیط کې واقع کیدل چې مجبور ول دومره څه پیدا کړې چې د پنځه ورځې ژوند او د بیا ټاکل کیدو لپاره پرې چاره وکړي، والیان په جنګي شرایطو کې تر ټولو زیات په ګواښمنو شرایطو کې اوسیدل خو مرکزي دولت او د سیمه ییزه ارګانونو د خپلواکه اداري لخوا قطعاً پر دغسې نزاکتونو بحث او ملاحظات نه مطرح کیدل، همدې نزاکتونو او باریکیو ته

په پام سره په ولایتي کچه ـ ټول سیمه ییزه عناصر پدې پوهیدل چې د والیانو مجبوریتونه له هر اړخ ډېر دي، آسیب پذیر دي، په جنګي شرایطو کې له امنیتي او دفاعي ستونزو سره په مسلسله توګه ګرفتار پاتې کیدل، په خپل ولایت کې له قومي او ګوندي پشتوانې بې ملاتړه پاتې کیږي، ځکه چې والیان د بل ولایت ول، دا یوه تر ټولو لویه ستونزه وه، سیمه ییزه کارمندان چې غالباً د هماغه ولایت اوسیدونکي ول د والي پر ځای له محلي عناصرو سره همکار پاتې کیدل، ځکه چې دوی به پوهیدل چې والي د څو ورځو میلمه ده خو ولسي استازي همدلته دي نو طبعاً چې ترجیح به یې ولایتي اداره او والي نه و؛ بلکې هماغه قومي او محلي رجحان و او د محلي زورمندانو سره تعامل او سازش یې انتخاب او مصلحت و.



**(۳) په اداري او مدیریتي برخه کې د واکونو او صلاحیتونو کمښت**

دغه موضوع ډیره تکراره شوه او زموږ د همدې څېړنو او مباحثو مرکزي بحث هم همدا دی چې په ولایتي ادارې کې کافي، معقول، او ځوابده واکونه نشته، هر کله چې ولایتي اداره له یوې محلي ستونزې سره مخامخ شوی، د حل لپاره یې مرکزي هدایاتو ته محتاج شوی، مثلاً د بېړنیو پېښو او طبیعي حوادثو په وړاندې د لازمو اجرااتو لپاره، چې ایمرجنسي او بېړنۍ حالت دی، باید چابک ګامونه واخیستل شي، هغه که خریداری وی، یا تدابیري چارې وي، خو محلي اداره مجبوره ده د غذایې او غیر غذایې او دارو درمل، مسکن، خوندیتوب او دیته ورته اړتیاو لپاره غالباً باید له مرکزي ادارو مرسته او معاونت وغواړي چې زمانبره او تاواني تماميږي.

مثلاً په وروستیو شپږو کلونو کې چې د ټول نظام تدارکاتي چارې په بشپړه توګه ارګ ته په انحصاري توګه انتقال شوې، پدې لړ کې د ولایتونو تدارکات، یواځې د پرچون خریداریو او تر پنځه لکه افغانیو کم، صلاحیتونه چې ولایتونو ته پاته و، نورې ټولې تدارکاتي چاري مرکزي ادارو او لوی تدارکات یې ارګ ته، هغه مرکزي تدارکاتو ته انتقال شو چې لدې سره نه یواځې ولایتونه خلع صلاحیت شول ترڅنګ یې جوړ شوی مسلکي ظرفیت له منځه لاړ، ولایتي ساختماني او خدماتي شرکتونه پرچاو شول، اړوند تشبثات په ولایتونو کې ورشکسته او وتړل شول، د بازار او پانګي دوراني حالت له رکود سره مواجه شو، بیکاري ورسره زیاته شوه او حکومتي وجاهت په تش میدان خالي پاته شو...

همدا د واکونو کمښت په اداري او تعيناتي چارو کې د والي د حيثيت په تاوان هم تماميږي، مثلاً د دويمي واحدونو کارمندان خپلو اړوندو ادارو او وزارتونو ته ځوابده او راپورده دي، د دوی کاري ارزيابي د اړوندو ارګانونو لخوا طی کيږي، په داسې حال کې چې مسووليت يې له ولايتي اداري سره ده، د کار او کم کاری انداز يې ولايتي اداري ته معلوميږي، خو کله داسې هم پېښيږي، بلکې غالباً همداسې کيږي، چې ولايتي اداره يې د کلني ارزونې په فورم کې منفي ارزيابي کړي خو د اړوند مرکزي اداري لخوا دوباره تائيد شي او پدې توګه يې ماموريت ابقا شي، چې پدې سره طبعاً د ولايتي اداري د رهبری او د هماغه دويمي واحد د کارمند يا کارمندانو تر مينځ شخړه او بې اعتمادي لازياته ژوره شي چې پدې سره کاري کيفيت او د اجرااتو سلسله مراتب زيان ويني. والي نشي کولی بې کفايته او ضعيف کارمندان معاوضه يا تبديل کړي، د ملکي خدمتونو په قانون او مقرراتو کې د کمزوري مسوول د انفکاک لپاره ډير بروکراتيکه معيارونه ټاکل شوي، په اول کال يې که ارزيابي منفي راغله نو په سوانحو کې يې توصيه درج کيږي، بل کال به د مسلکي ظرفيت ارتقايي پروګرامونو ته معرفي کيږي ترڅو کار زده کړې، بيا به يو بل کال فرصت ورکول کيږي خو په دريم کال که منفي و نو به يې بست اعلان ته سپارل کيږي، البته که يې ارزيابي د ولايتي مقام لخوا منفي ارزيابي شوه نو مربوطه رئيس د شکايت او اعتراض حق لري، چې ددې کار لپاره د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري لخوا ورته هيئت ټاکل کيږي، بيا که قناعت حاصل نشو نو لوی څارنوالی ته هم عارض کيدای شي او پر والي خپل شکايت درجولی شي، چې دا تسلسل قطعاً زمانګير، بې فايدي او فساد جوړونکی دی.

لکه چې مو مخکې يادونه کړې، د محلي اداري د کارمندانو يواځي د ۸ م بستونو د ټاکنې صلاحيت واليان درلود، پدې بستونو کې باغوان، برقي، دريور او خانه سامان شامليږي، چې دا صلاحيت قطعاً د ولايتي مقاماتو له شان سره نه زيبي او نه يې پر کاري کيفيت، اصلاحاتو او بهبود باندې هيڅ اغيز غورځولی نه شوای.

**(۴) د مرکزي حکومت له لورې ولايتي ادارو ته د ښې حکومتولی په هکله د برنامو او آيډيالونو نه موجوديت**

ما خپله څه کم شپږ کاله په محلي اداري کې دنده ترسره کړه، مګر په دې مودې کې مې د محلي حکومتداری د چارو او پاليسيو د بهبود لپاره کارنده، محلي شرايطو ته ځوابده، له حالاتو سره مناسبه او بدلون راوړنکې طرحه ونه ليده، منم چې پر ځينو پاليسيو، اصلاحي طرحو او تقنيني اسنادو کار کيدلو خو متاسفانه يوه طرحه به نه وه تکميله چې بيرته به منحل شوه او بله طرحه به رامخته شوه، د مرکز په کچه به يوځل درې وزارتونه سره مدغم شول (لکه په ۱۳۹۸ کې چې د اورګاډي، ټولګټو او ترانسپورت وزارتونه سره مدغم شول، بيا په ۱۳۹۹ کې د ماليې وزارت د عوايدو او پانګونې رياستونه چې د جمهوري رياست د چارو اداري ته انتقال شول، يا مثلاً د اراضي او ځمکولی اداره چې له زراعت وزارت را جلا او له ښارجوړونې سره يوځای شوه او بيا بيرته مستقله شوه او...) د دغسې تصاميمو په هکله به طبعاً ولايتي واحدونه هم په نوسان کې راتلل چې ښخوندي يې سخته راوستې وه.

شپږ ځلي د محلي ادارو د پاليسی په سند کې ادلون بدلون راغی، دوه کاله د واليانو او ولسوالانو د وظايفو په هکله بحثونه وشول، څو څو ځله د ولايتي ادارو د تعيناتو پر ميتودونو بحثونه وشول پدې مقصد چې د ولايتي کارمندانو د ټاکنې پروسه دې په ولايتونو کې طی شي خو عملاً دغه چارې او پروسيجرونه له مرکز څخه «د ملکي خدمتونو او اداري اصلاحاتو د خپلواکه اداري لخوا) طی مراحل کيدل.

### (۵) مدني فعالان،
### په ناتعریف شوې هویت کې د کاذبه هویت ماشومانه ملکان!

د خارجي حضور یو لوی تاوان دا و چې د مادي آبادیو په بیه یې د وطن معنوي آبادۍ هم نړوله، په تیرو شلو کلونو کې خارجي حضور د غربي ارزښتونو ځیني هغه پدیدې او فنامنې په سیستماتیکه توګه وزیږولي چې پخپله په غربي ټولنو او لیبرال دیموکرات نظامونو کې هم نه وې، یوه پکې د مدني فعالانو سلسله وه چې پدې سره یې د قوم د حقیقي مشرانو او متنفذه کلیوالو نقش ختنی کړ، مدني فعال یوه ناتعریف شوې پدیده ده، نه د وظایفو لایحه لري، نه قانونمنده رتبه او نه هم حقوقي تعریف شوی ځایګی لري، د جمهوریت له پیل سره دغه پدیده د اصلي محلي او عنعنوي مشرتابه د سبوتاژ لپاره راوپنځول شوه، خصوصي رسنیو پدې برخه کې او د ترویج او ځای په ځای کیدو لپاره یې خارجي فنډونه او د مطرح کولو فیسونه اخیستل، تر څو یې دغه ناتعریف شوې پدیده په یوه معتبر هویت تبدیله کړه، مدني فعالانو بیا ځانګړې د وظیفو لایحه نه درلوده، نه یې کلنی پلان، نه یې لیدلوری او دورنما او نه یې هم سپیڅلې مقاصد درلودل، دوی له محلي ادارې سره تر آخره یا په ټکر کې ول یا یې جیره خواره اخذیان ول، په ولایتي کچه به دوی د هرچا لخوا کرایه کیدل، که ولایتي شورا یا نورو نهادونو د ولایتي اداري پخلاف مظاهرې او جلسې ترتیبولې همدا قشر به یې کرایه کاوه، دوی به له رسنیو سره د محلي مشرتابه پخلاف مرکې کولې او د همورته ځوانانو په راټولونې او انسجام کې به یې ځان بوخت کاوه، د کاذبه شهرت په کمایې سره به یې ځانته ټولیز موقعیت جوړووه، پدې توګه ددغسې قشر له ودې سره د ځوانانو مسلکمحوره او تخصصي وده او تبارز هم صدمه لیدله، ځکه چې د دوی په سبب په ټولنې کې د مطرح کیدو او ځای پیدا کیدو لپاره معیارونه مات شول، سپک حرکتونه، مطلبي تعامل او تاواني مزاحمتونه د مطرح کیدو او برجسته کیدو لپاره اساس جوړ شوی و، رسنیو متاسفانه پدې برخه کې فوق العاده غیرمسوولانه نقش ایفا کړی.

### (٦) فرصت طلبه، خصوصي رسنۍ او مطبوعات،
### ډیر کله څلورم ستون د اتم ستون په نقش کې

دا هم د ویلو وړ ده چې خصوصي او شخصي رسنیو د «آزادو رسنیو» له امتیاز سخته سوء استفاده کوله، په داسې حال کې چې دوی آزاده او خپلواکه رسنۍ ندي، په افراد او نهادونو پورې اړوند دي، دوی د خصوصي سکتور په شان عایداتي او بامنفعته کاروبار تر سره کاوه، سره لدې چې دوی له هر خارجي نهاد مرموز او نامرئي فنډونه ترلاسه کول، د کلتوري ارزښتونو په وړاندې په پوره بې مهرۍ یې پردي ارزښتونه اخیستل او خپرول، خو د خصوصي سکتور تر نورو زحمتکشه تشبثاتو یې دا امتیاز درلود/لري چې خبر، پروګرام او ګذارشونه خرڅوي، فکري انحراف ترویجوي مګر مصئونیت هم لري.

په ولایتي کچه بیا وضعیت تر دې زیات خپلسری و، د دوی محلي کارمندانو او ګذارشګرانو د ژورنالستیکي مصئونیت له عنوان په سوء استفادي سره کولی شوی له محلي چارواکو بهره برداري او ناجایزه امتیاز ترلاسه کړي، چون معیاري او با مسوولیته ژورنالیزم په هېواد کې لا نه و عام شوی، او ضمناً دوی د اصلي ماموریت تر څنګ د بلک میل کولو، بدنامول او نیک نامولو،

بې پردې کولو او پرده اچولو ابزار په لاس کې درلودل، د نړیوال میډیایي سازمانونو ملاتړ یې درلود، د بیان د آزادۍ تر حق لاندې یې ډیر ځواکمن او مسلط سنګر درلود دوی د لویو بهرنیو موسساتو مرموز او ښکاره فنډونه ترلاسه کول، غټ شمېر مطبوعاتچان پدې تور بازار او بې کنترول ماحول کې په آخاذیو، بخششونو، هدایاوو او بهر ته پر مجاني سفرونو معتاد شوې وو...زه ګڼي داسې رسنۍ، رسنیز آژانسونه او چلوونکي یې پیژنم چې د خپلو مزاحیه پروګرامونو له لارې یې شخصیت وژنه، آخاذي او بخششونه اخیستل...خو په ولایتونو کې له یوې خوا والیانو د خپل مکانت او تبلیغاتو لپاره او هم د جنګي شرایطو او پروپاګندیزه ضرورتونو په پار د رسنیو استازو ته مخفي امتیازات ورکول، په عین وخت کې چون ولایتي زورمندانو او ګویا د ولس محلي استازو د ولایتي اداري په خلاف میډیا کاروله نو په مقابل کې یې والي او د ولایتي واحدونو مسوولینو هم همدغه ابزار منحرفولی شوی او هم یې د مادي امتیازاتو په بدل کې په خپلو منافعو راڅرخولی شوی. روایتونه او واقعیتونه ګڼ او جالب دي، منتها په شفاهي ادبیاتو کې به یې وقتاً فوقتاً او حسب ضرورت وړاندې کوم.

**(۷) د علماوو شوراګانې،**

**د بې اثره او خنثی نقش علمداران**

د علماوو شوراګانې د جمهوریت د شل کلن دوران هغه معنوي پانګه وه چې د دولت د مشروعیت په حد کې یې خورا ارزښت درلود، مګر متاسفانه دوی د بازار واقعیتونو او له زماني سره د تګ او چلښت په پار په یوه داسې پرادوکس کې واقع شوې ول چې اصلي سپیڅلی نقش یې نشوای ادا کولی...دوی به غالباً پدې پوهیدل چې تر ښځینه شوراګانو او د مدني فعالانو تر مکانت یې ارزښت کم دی، ممکن له رسمي ادرس دوی ته هغه لازمي اعتبار او مادي امتیازونه نه ورکول کیدل کوم چې د همدې سپیڅلې منصب لپاره ایجاب کاوه، ځکه خو یې نقش او اثر ډیر کم و.

همدا خنثی نقش باعث کیده چې دوی هم د محلي رقابتونو په شبکو تقسیم شي، کله د والي په خوا کې او کله یې د سیالانو په خوا کې، کله دلته او کله هلته د امتیاز په تفاوت سره دغه معززین هم په ذی منازعه کړیو تبدیلیدلی شوې وی چې د سیمه ییزه حکومتولۍ لپاره یې دوه اړخیزه ځای درلود، د دوی ملاتړ او مخالفت دواړه امکان پذیره و، دا چې دوی په نزاکت پوهیدل نو د فایدې طرف یې هم تشخیصولی شوی، متاسفانه پدې حب او بغض کې د دوی هغه اصلي «مسلکي او تخصصي» نقشونه یې لکه: ټولیزه اصلاح، تبلیغ، ارشاد، دعوت، تدریس، افتاء، امر بالمعروف، نهی عن المنکر، حل منازعات، وساطت، مصالحې او د خیر ښیګڼې ماموریتونه ډیر کم ورته مهیا کیدل...دوی په جنګي شرایطو کې او د مصئونیتي امتیازاتو په فقدان کې نشوای کولی په واضح او مبینه توګه د ولایتي اداري په ملاتړ کې راشي، دوی په خپل وخت او خپلو ولایتونو کې په ښکاره توګه د نظام جګړو او اړوند امنیتي او دفاعي ماموریتونو ته د مشروعیت انګیزه نشوای ورکولې ځکه یې نقش په خپل «ماموریتي وظایفو» کې هم خنثی او د حساب وړ نه و.

په محلي کچه ولایتي اداري تر بل هرچا د علماوو ملاتړ او د دوی نقش ته اړتیا درلوده، لکه چې یادونه مو وکړه په ولایتونو کې د شخړو او منازعاتو د حل لپاره، د ټولنې د پوهاوي لپاره، د انساني حقونو د تشریح او ملاتړ لپاره او داسې نور د خیر ښیګڼې ماموریتونه چې ولایتي مقام ورته رسیدنه نشي کولی خو ولایتي ادارو ته د همداسې شوراګانو د ملاتړ لپاره هیڅ مادي او مالي امکانات نه و سنجول شوې.

**(۸) کوچیان،**

**بې رمې خیلونه او بې لبنیاتو غیژدۍ!**

په مجموع کې کوچیان د دې وطن تر ټولو زیات ګټور قشر دی، دوی په غذایې مصئونیت کې د اصلي غوښو او طبیعي لبنیاتو په تامینولو سره، د قالین او ګیلیم صنعتي سکتور ته د وړیو او هم چرمي صنایعو ته د چرم په تامین سره مهم اقتصادي نقش ایفا کوي، خو متاسفانه د جګړو په کلونو او د مرکزي نظامونو لخوا دوی ته په کمه سترګه کتل باعث شوې چې زمونږ له وطن څخه تر ۵ میلیون میږي او اوزې د باندې په کشمیر، پاکستان، د ایران په بلوچستان یا سرحدي مجاوراتو کې استوګن او په تردد کې شي. د همدې پنځه میلیون رمو تولیدات هم زمونږ د وطن د بچو په ځای په بهر کې عرضه او مصرفیږي، که دوی خپل هېواد ته تشویق شي نو د ماشومانو او کورنیو د غذایې مصئونیت یا د خوړو د خوندیتوب کچه به ډیره بهتره شي.

په کور د ننه د اصلي کوچیانو اصلي کوچیانۍ ژوند ډیر زیات بدل شوی، که موجوده د کوچیانو پدیده له نژدې وکتل شي په هغه حقیقي اصلي ماهیت کې چندان ندي پاتې شوې، یو غټ شمېر خلک کوچي قوم ته په انسلاک سره پر دولتي او سیمه ییزه ځمکو، چې په عرفي توګه په اړوند کلیو او کلیوالو پورې تعلق یا شفه لري تصرف کړې، ګویا دا یې د پلرونو او نیکونو د زمانو مالځرونه او د رمو څړځایونه دي نو یې په ملکیتي تصرف کې راوستي دي، متاسفانه په تیرو شلو کلونو کې په هیڅ متعارفه دولتي برنامې کې د کوچیانو د ښاري کیدو او مسکن ګزینۍ په اړه څه ندي ترسره شوي.



په اساسي قانون کې په عمومي توګه د افغانستان د اتباعو حقوق او وجایب بیان شوي، چې کوچیان هم پکې راځي، اما په فرعي قوانینو کې د څړځایونو د خوندیتوب مسایل نسبتاً بیان شوې، چې دا د رمو او څارو برخه او حق یې دی، نه د کوچیانو د ملکیتي تصرف په عنوان...

همدې مشکل ته په پام سره او د قوانینو ګونګوالی باعث کیده چې هم کوچیان او هم محلي استوګن یو له بل سره په ټکر کې پاته شي، دا مشکل مې هغه وخت محسوس کړ او جدي هم دی چې په لغمان ولایت کې مې د ولایت په دوران کې د افغانستان د هر ولایت د کوچیانو خپلسري ولیده، په ګمبیري کې په زرګونو جریب ځمکه کوچیانو غصب کړې، په سرخکان، ناصرو، احمدزو، په بابا صاحب، اسلام دره، بادپخ، زیړانی، شمه کټ، سروبی او ګنو نورو سیمو کې د څړځایونو په عنوان اول هغه ځمکه ورخپله وي بیا یې پر نورو خرڅوي، په لغمان ولایت کې داسې سیمې او پلاني نمري وې چې د کاپیسا، لوګر او کابل ولایت وکیلانو ته یې د فروش له بابته پیسې رسیدلې...

هغه کوچیان چې رمې او غیږدۍ لري هغوي پدې غصب کې ډیر لاس نه درلود، خو نورو با رسوخه خیل مشرانو، د کوچیانو استازو او په نامه کوچیانو په عموم کې دومره خپلسري او تصرفات وکړل چې ټول معزز کوچي قوم ته یې بدنامي جوړه

کړه...ولایتي اداره پدې میان کې د ټکر او تصادم په محور تبدیل شوې وه، ځکه چې د ځمکو د غصب مخنیوی، د سیمه ییزه ځایي اوسیدونکو او کوچیانو تر منځ د شخړو په لړ کې خامخا ولایتي اداره طرفي کیدله په هر حالت کې او د شخړو پیچلتیا ته په کتو به دغه حالت د ولایتي ادارې په دردسر تماميدله...پدې محلي کشمکش کې د ولایتي ادارې هره حق بجانبه موقف باعث کيده چې د منازعي اړخونه د ولایتي ادارې د پریکړو په سبب د دولت او مخالفينو په حمايوي اړخ او يا هم په معارض گروپ بدل شي... ډير کله د محلي خلکو او کوچيانو په شخړو کې مړې هم شوې او دوام يې د ناامنۍ د زياتيدو باعث شوې...

### (۹) مذهبي او قومي ليږکۍ، د لوی رعايت واړه نازبرداران



قومي او مذهبي ليږکۍ د هيواد په لويه ستراتيژۍ او لوی سياست کې تر ټولو حساسې پديدې وي چې په رعايت رعايت کې يې نامرئ تضاد او فاصله له لويو قومونو او لوی مذهب سره هغه ځای ته ورسيده چې همدې ليږکيو ځانته له نورو سره برابر حق او امتياز غوښت، دوی سوکه سوکه د دولت او دولتي برنامو په وړاندې په مزاحمتي قشر تبديليدو، د روښنايې جنبش، جنبش رستاخيز تغيير او ديته ورته مزاحمتي گروپونه راپيدا شول او تر هغه حده ورته سوژه ورکړل شوه چې عملاً دولت (ارگ) ته په گواښ تبديل شول، ارگ ورسره امتيازي راکړه ورکړه پيل کړه، د هېواد د گارنيزيوم عمومي قوماندان، گل نبي احمدزی او جنرال فروغ مرستيال يې پر دغو معترضو د تشدد په پار لوی څارنوالی ته معرفي شول، نتيجتاً د کابل امنيتي ادارې ددې معترضينو په وړاندې دومره بې وسه او بې صلاحيته شوې وو چې د پنځو معترضينو مزاحمت پنځوس کسيزه پوليسي ټولۍ هم نشوای کولی، ځکه چې هر اقدام به پوليس او د عامه نظم ساتونکي ځواکونه د عدلي تعقيب وړ گرځيدل، د فکري، قومي او مذهبي ليږکيو د مزاحمتي او اعتراضي حرکتونو مثالونه ډير دي، مثلاً له ملي تذکرې سره مخالفت، له اساسي قانون سره مخالفت، له ملي بيرغ سره تضاد، له تاريخي وياړونو او وياړلو اتلانو سره توهيني چلند، د من افغان نيستم د تحريک ايجاد، له ملي هويت سره ټکر او تضاد، په باميان، دايکندی او کابل کې د کوچيانو پر ضد د استاد محقق او نورو هزاره مشرانو لخوا څو څو ځله د پايتخت نظم په انارشي او د سقوط تر درشله رسول، د عليپور په سر د کابل اعتراضونه په هيواد کې د عدلي نظام ستنې او حيثيت ولړزول، امنيتي پرسونل يکې شهيدان شول، پوستې او امنيتي حوزې پکې تخريب او حريق شوې، په ورځو ورځو اقتصادي روزمره جريانونه وځنډيدل او...

د ليږکيو د قهرمانانو او شهيدانو د لمانځنې ورځې به د بې نظمۍ او بې نظامۍ تر ټولو گواښمنې ورځې وي، عيناً همدا مزاحمتي او اعتراضي حرکتونه په ولايتونو کې تقليد کيدل، کله به د مدني فعالانو په عنوان کله به د کوم معتبر مړي او قهرمان دلمانځلو

په پلمه او...دغو حرکتونو دولتدارۍ او حکومتدالي ته سخت ژور گواښونه پیښول، د ثبات او نظم پایې یې سستولې او د دولت او رهبرۍ حیثیت یې راغورځولو...
که څه هم افغانستان یو کثیرالقومي او کثیراللساني ټولنه ده، په مذهبي لحاظ د تشیع پیروان پکې شتون لري چې دولت مکلف دی د دوی مسائلو او اساسي حقونو او هم یې ملي مشارکت ته پرته له تبعیض رسیدنه وکړي، اما په هغه شکل چې په تیرو شلو کلونو کې د ملي وحدت او ملي مشارکت تر چتر لاندې ناکامه تجربه وشوه، دوباره باید تکرار نشي، ځکه چې پر همدې محور د دولتي ساختارونو او ماموریتونو تنظیم او تقسیم د دې په ځای چې ملي وفاق تامین کړې برعکس یې د ورونو قامونو تر منځ فاصلې او تقسیمات پراخ کړل، د لیرکیو په هکله دلته د بحث گنجایش نه لرو، چون اصلي موضوع مو دا نده، دلته یواځې د همدې حساسیتونو او نزاکتونو پر اغیزو مې اشاره وکړه کوم چې د پایتخت تر څنگ تر ټولو زیاته مشغله یې ولایتي ادارو ته هم ایجادوله... په ولایاتو کې د همدې نزاکتونو او نرخ او نوا او خاطرداریو د ساتنې او دوام لپاره کافي امکانات نه ول او هلته د ټولنې د پوهاوي کچه د هغه وخت د برداشتونو لپاره کمه وه...

**(۱۰) له مرکز څخه څو اړخیزه نظارتي څارنه، مسلسله باجگیرۍ او د بې بنسټه شکایتونو تعقیب**

هغه څه چې په سیمه ییزه اداره کې یې د خدمت انگیزه ځپلې او حیثیتي اعتبار ته یې صدمه رسوله، دغه نظارتي سلسله د چارو د بهبود نه بلکې د امتیاز او آخاذۍ یوه ذریعه وه.
ولایتي څارنه په یوه مافیایي ماموریت د مرکزي ادارو لپاره تبدیله شوې وه، بخصوص د پارلمان د مجالسو لخوا، یو وخت (۱۳۹۹کې) په یوه اونۍ کې څلور پارلماني نظارتي استازي له آقینه بندر څخه لیدنه او حصولي برخه ترلاسه کړه، هر پارلماني گروپ کې ۱۲-۱۵ وکیلان بندري نظارت ته تللي وو، چې مجموعاً تر شپیته وکیلانو په یوه اونۍ کې له آقینه بندر او گمرک لیدنه او کمیشن ترلاسه کړ، زما په وخت کې په فراه ولایت کې له مرکز ـ پارلماني او حکومتي ډلې په دوو کلونو کې تر لس ځلې زیات د ابو نصر فراهي گمرک څخه نظارت ترسره کړی وو، هر ځل به همدې په اصطلاح هیئت ته یوه ډالري پنډه د اړوند گمرکي مافیاوو او ځیره خوارو لخوا ورکول کیدله، دا یو بربنډ حقیقت دی چې انکار ترې نشي کیدی، مرکزي حکومت ته مو په وار وار پدې هکله شکایتونه کړې وو تر څو د هیئتونو له دې کثرت ډه ډه وکړئ، ځکه دوی چې په هر عنوان راځي د فساد او آخاذیو په اخیستو بیرته راځي او خپل نظارتي گذارش هم داسې جوړوي چې تر گټې یې هرځل تاوان زیات رسولی او د څارنې اعتبار او محتوا زیانمنه شوې ده.

طبیعي ده که به د دوی د رشوت او امتیاز غمه نه خوړل کیده نو د دوی گذارش به بې دلیله هم منفي او تخریبي و، محلي چارواکو دې مشکل ته په پام دغه د فساد ډلو او هیئتونو ته مجبور ول امتیاز او رشوت ورکړي، حتی که به په کارونو کې خلا او نواقص هم نه ول، زه یې روایتونه او داستانونه شخصاً لرم...

جالبه دا چې مرکزي نظارتي هیئتانو به یواځې له عایداتي ادارو او ساختماني پروژو نظارت کاوه، لکه گمرک، ترانسپورت، ښاروالی، بندرونو، د نفتي موادو له ادارو، له ښارجوړونې او اراضۍ، ساختماني پروژې او قراردادي شرکتونه او...ځکه پدې ادارو کې د ورکړې لپاره شی پیدا کیدو...

**(۱۱) فساد پیشه مافیا،**

**د راشي او مرتشي د مرموزه سازش یوه تاواني کړۍ**

پر دغه عنوان تبصره ځکه نه کوم چې ګڼ ځلي بحثونه پرې شوې دا یوه عامه پدیده وه، دا چې عادي رسمي کارکونکي په مرکز او ولایتونو کې د جایدادونو او ملکیتونو خاوندان شول، په ښارونو کې دومره ښارګوټې جوړ شول، تجارتي محلات او مفشن استوګنځي اعمار شول نو چې د مالکانو له عایداتو او د هغوی د رسمي معاش تر منځ تحقیق وشي واضحاً جوتیږي چې د ناجایزه عوایدو پر پیسو دا هرڅه مهیا شوی، دا مې د بحث ټکی ندی، منتها دا چې د دولت مشروعیت او زوال ته دغسې فسادونو څه ورپېښ کړل، هغه خو جوت دي...!

**(۱۲) د توکو قاچاقبران،**

**محلي مجبوریتونه، که د تورو تجارتي ګټو سپینونکي؟**

د افغانستان له ښاري اوسیدونکو پرته چې څه نا څه ښاري امتیاز او درآمد ترلاسه کوي په ولایاتو او دهاتو کې د دولتي امتیازاتو او ګټورو کاروبارونو چندان څرک ندی محسوس... ځکه خو د ښاري او اطرافي وګړو ترمنځ د تضاد او تفاوت ترڅنګ د اطراف اوسیدونکي د امرار معاش لپاره مجبور ول پخپل ځان تکیه وکړي، پر هغو منابعو تکیه وکړي چې دوی ته مهیا او ممکن دي، د قیمتي کانو خپلسره استخراج او کیندنه، د تریاکو کاروبار، د ګمرکي فساد په سبب له مالیاتو فرار، رشوت، قاچاق او په مجموع کې تور تجارت ته پناه وړل...د دې تر شا د حکومت بې کفایتي، نارسۍ، فساد، جنګي شرایط، د انکشافي پروژو او امتیازاتو نا عادلانه ویش، د منابعو څو اړخیزه کیدل، مثلاً له یوې خوا تمویلونکو پروژې مصرفولې، دوی په نامتوازنه او نا انډوله توګه د دولت له منابعو سره په تضاد او تفاوت تمرکز کاوه...دا هرڅه باعث شوې چې عام اطرافي وګړې له مرکزي حکومت بیزاره اووسي او پدې توګه پر هغو فعالیتونو ځان تغذي او خپلې کورنۍ بسیا کړي چې دوی ورته اړ کړل شوی..

البته د تور تجارت حاصل هم تورې پیسې دي او د تورو پیسو تراکم باعث کیږي چې د پولشویې له عملیاتو دغه عواید پټ وساتل شي، د سپینولو لپاره یې بیاځلي مجبور ول په تور کاروبار ولګوې او پدې توګه بیاځلې یې یوه برخه مالیاتي کارمندانو ته په رشوت کې توزیع شي او پدې توګه دغه خبیثه کړۍ همداسې دوراني پاته شي او نتیجه یې ګورو چې په لویو ښارونو او پایتخت کې، په غیر پلاني توګه د لوړ پوړیزه ودانیو کثرت، د سوپر مارکیټونو بیروبار، د خارجي اسعارو او کرانسیو قماري کاروبار، له هیواد څخه د پانګې او سرمایې فرار...او...

په مرکز کې د واکونو د انحصار او تمرکز په دلیل او هم د ۱۳۹۵-۱۴۰۰، بلکې تر سقوط پورې، د فرمانونو له مخې په ولایتونو کې د پلانګذارۍ او ښارجوړونې چارې درول شوې وې، په همدې کلونو کې په ولسوالیو او لرو پرتو سیمو کې د ناامنۍ او اقتصادي فقر په پراختیا سره پر ښارونو او د ولایتونو پر مرکزونو جمعیتي هجوم زیات شو، د بیځایه شویو کورنیو فشار په مضاعفه توګه زیاتیدو، له ایران او پاکستان څخه وطن ته راستنیدنه هم په شدت سره زیاتیدله برعلاوه په افغانستان کې د زاد او ولد نرخ سخت لوړ دی، کورنۍ لویې شوې دي تعداد یې زیات شوی او پر استوګنیزه ځایونو اړتیا اوج ته ورسیدله، په همدې زماني مقاطعو کې دولت د ځمکو وېښ تر امر ثاني پورې بند کړی و، ښارجوړونه او ښاري پلانګذارۍ بنده شوې وه،

همدا باعث شول چې په ناامنه ولایتونو کې د ځمکو غصب او د سرپناه مجبوریت پر دولتي او غیر دولتي ځمکو د تصرف کچه لوړه کړه، ولایتي ادارې له یوه نوی ګواښ سره مخامخ شوې وو، له ولسونو او بې ځایه شویو کورنیو سره یې لاس په ګریوان شو، د حکومت او ولس تر منځ واټن او کرکه پراخیدله...په لغمان ولایت کې چې والي وم، په مکرره او مسلسله توګه مې له مرکزي ادارو د دې ستونزو د علاج مطالبه کړې وه، ګڼ مکاتیب او مراسلات مې د جمهوري ریاست په شمول، د اراضي لوېې ادارې ته، د ښارجوړونې وزارت ته، د سیمه ییزه ارګانونو خپلواکې ادارې ته او ذیربطه سکتورونه ته ترسره کړې و او پدې حساسیتونو مې پوه کړې و؛ منتها نتیجه یې نه ورکوله، د ارګ واکمنانو د افغانستان اصلي تصویر نه شوای لیدلی، د ولایت د مقام بستونو په لین ولاړ خریداران درلودل او مرکزي مسوولینو په دویم کتار کې همداسې خریدارانو ته ترجیح ورکوله او د شکایت کوونکي او برنامه محوره والیانو د لیري کولو لپاره بهانو ته منتظر ول، والي د خپل مقام د ساتنې او وظیفوي دوام په پار ناچار و یا له واقعیتونو سترګي پټې کړې یا حقایق وارونه او هغسې تفسیر کړې چې مرکزي ادارې ته جذابیت لري...

ځکه خو د جمهوریت په وروستیو کلونو کې د ځمکو غصب او اړوند مافیا یې برلاسه پاتې شول، د غصب پدیده پراخه شوه، د دولت مشروعیت له اطراف د راټولیدو په طرف زور واخیست، د پلانګذارۍ ممنوعیت او د خانه به دوشانو د تصرف عامل په خپل قوت پاته شو.

د ۱۳۹۸ او ۱۴۰۰ کلونو ترمنځ د معدني ساختماني موادو د استخراج او استفادې ممنوعیت بل هغه عمده تصادم و چې د ولایتي ادارې او ولسونو ترمنځ ایجاد شو، معدني ساختماني مواد د بندیدو قابلیت نلري باید په عاجله توګه ورته کړنلاره او تنظیمه او مالیاتي مقرره جوړه شوی وای خو متاسفانه دې نزاکت ته پاملرنه نه کیدله، ما د کانونو له دریو سرپرستانو سره، نرګس نهان، مهمند او..سره پدې هکله ناستې وکړې په مکتوبي شکل مې همدا ستونزي او پیامدونه په وار وار هغوی ته بیان کړې وه خو هغوی به د کابینې پریکړې او د دولت د رهبرۍ هدایات رامخې ته کول...د اړوند مقررې دوه کاله ځنډ توجیه وړ نه وه، خو که چیرې د دغسې وړو چارو صلاحیت محلي ادارو ته سپارل شوی وای حتمن به یې د علاج لپاره بهتره چاره پیدا کړې وه.

**د دې ټولو حاصل او جمع!**

ګڼ نور داسې ممانعتونه او ستونزې شته چې ما یې د نمونې په توګه دغه څو ځکه یادې کړې چې خپله مې د ولایتي ماموریت، د والي په حیث، تجربه کړې، کنې محلي زورواکې، نامسووله ټوپکسالاران، تنظیمي بقایا، د اختطاف او وسلو مافیا، او...داسې نور...

خو په صراحت سره ویلی شم چې دغسې ستونزو ته د رسیدو او په موقع ورته ځواب ورکوونه که د ولایتي ادارې په صلاحیت کې وای په قطعي توګه به یې مخنیوی او چاره شوې وای، مثلاً زه شخصاً پوهیدم چې څنګه له داخلي بیځایه شویو سره او هم له عودت کوونکو سره تعامل وکړم، د دوی د سرپناه قانونمنده علاج وکړم، د کوچیانو او سیمه ییزه اوسیدونکو ترمنځ د منازعاتو له پېښیدو او پراخیدو مخنیوی وکړم، د ساختماني معدني موادو، لکه کانې، شګه، چونه، ریګ او...استفاده او د عوایدو کنترول یې د ولایتي ادارې په ظرفیت کې ممکن و.

له ګڼو نورو سیمه ییزه پدیدو سره د سیمه ییزه حل بې شمیره ګنجایش په ولایتي اداره کې موجود و، بلکې له دغسې محلي ستونزو سره ډېر زیات داسې پریکټسونه وو چې په تدریج سره او په تعامل سره ولایتي اداره ورسره پخیدله، د تعامل حکمت او چلند یې زده کولی شوی، حتی په امنیتي، کشفي او دفاعي مسایلو کې ولایتي واکمنۍ تر مرکزي چارواکو بهتره عمل او مدیریت کولی شوی، متاسفانه د مرکزي مسوولینو ماهیت له یوې خوا (چې اکثریت یې له خارج راغلي وو)، له محلي او ولایتي مسایلو سره د دوی نهایت کمه دلچسپي، د مرکزي او ولایتي مسوولینو ترمنځ نهایت کمزوري اړیکي، د محلي مسایلو په هکله د ناقصه، غرضي او کمو اطلاعاتو په سبب له بلې خوا...دا هرڅه باعث کیدل چې ولایتي او سیمه ییزه مسایلو او مشکلاتو ته کماحقه هر اړخیزه رسیدنه ونشي، همدا تسلسل باعث کیدو چې محلي حاکم «والي» د اړوند ولسونو په وړاندې بې کفایت، نا رس، بد او بې پروا معلوم شي، شخصیت او حیثیت یې د ناچیزه صلاحیتونو په سبب سخته صدمه لیدله، کلیوالو وګړو ته د ولایت مقام د ټول ولایت ملک او مالک معلومیږي خو په جوهري لحاظ والیان سخت بې وسه مامورین دي، والیان په حقیقت کې د مرکزي رهبرۍ او مرکزي ادارو سکرتران دي، نه سیمه ییزه حاکمان، دوی د مرکز د اوامرو او هدایاتو، که تاواني هم ول، په پلې کیدو موظف ول، پدې سره په چارو کې بهبود او په ولایتي کچه انکشاف نشي راتلای، که د ولایت د مقام منصب، معاش او دسترخوان ته وګورو یو نسبتاً بهتره امتیاز دی چې هر شخص پرې قناعت کوي او د حفظولو لپاره یې سازش او محافظه کاري کولی شي او ارزي هم...

خو اصلي مسایل د ولایتي ادارې په مجرمانه سکوت او د مرکزي رهبرۍ په تاواني غفلت او کتمان کې لاینحل پاتي کیږي، متاسفانه پدې سکوت او کتمان کې د دولت مشروعیت په مجموع کې او مشروع اقتدار په ټوله کې په مخفي او تدریجي توګه صدمه ویني...ولایتي اداره هم تش په نامه پاته کیږي...

ددې پورته بحث عمده نتیجه دا ده چې محلي اداره د لیږو واکونو او صلاحیتونو په سبب د هېواد ملي اهدافو او برنامو ته نا رس، کمزورې او بې کفایته پاته کیږي، لدې سره د ولسونو د رضایت او اطاعت کچه هم کمیږي...